هدایت الله هدایت

د ۲۰۱۰ م کال د مي ۱۲ مه

# د نړۍ د وتلو رسنیو او ورځپاڼو پېژندنه (۱۹) آساهي شیمبون ورځپاڼه

## د جاپان د آساهي شیمبون ورځپاڼه

# The Asahi Shimbun



په توکیو کې د آساهي شیمبون مرکزي دفتر

**د جاپان خلک د خپل زیات کوښښ او ادب باندي شهرت لري، د هغوی طبیعت، د ښایست او ښکلا د ساتلو او هستولو سره خاصه مینه ده ، د صنعتي توکو په ابداع کي هم مخکښنه ځانګړ تیا وي لري.**

په تېره برخه کي د جاپان او د نړۍ تر ټولو پر تیراژه ورځپاڼه د یومیوري شیمبون ورځپاڼه پېژندلې وه چي ورځنی تیراژ یې څه کم ۱۴ میلیونه نسخو ته رسیږي . نن د جاپان دوهمه مشهوره او پر تیراژه ورځپاڼه د آساهي شیمبون Asahi Shimbun ورځپاڼه پېژندل کیږي چي د ورځي په دوه وخته کي څه کم ۱۲ میلیونه نسخې چاپوي .

په جاپان کي د ورځپاڼو د لاري د خبر او اطلاع رسولو درسمي خپرونو تاریخ د کال ۱۸۵۰ ولسیزي ته رسیږي . په دغه لسیزه کي لومړنۍ اوونیزه مجله چي عمدتاً د هالنډي ورځپاڼو څخه د خبرو ترجمه وه، خپره سوه . تر دې لسیزه پوري هالنډ یوازنۍ بهرنۍ هیوادو وو چي په جاپان کي یې د تجارت اجازه درلودله . په کال ۱۸۵۳ کي کله چي د تجارت د پاره د امریکا کښتۍ جاپان ته ورسېدلې نو امریکایانو د جاپان ۲۲۷ کلنه انزوا پای ته ورسوله ، دلته یې خپل کار شروع کړ . په را وروسته دوو لسیزو کي درې شخصي ورځپاڼي خپرې سوې . په کال ۱۸۷۱ کي د ماینې جي شیمبون په نامه چي د جاپان لومړنۍ ورځپاڼه وه د یوکوهاما په ښار کي خپره سوه . درې کاله بعد یعني په کال ۱۸۷۴ کي د یومیوري شیمبون په نامه ورځپاڼه چي نن د جاپان او نړۍ پر تیراژ ترینه ورځپاڼه ده خپره سوه او په ۱۸۷۹ کي د آساهي شیمبون ورځپاڼه چي د سهار د لمر د څرک په نامه یادیږي او نن د جاپان یوه مطرحه او معتبره ورځپاڼه ده په اوکیناوا کي په خپرونو پیل وکړ .

د آساهي شیمبون ورځپاڼه تل د یوې داسي ورځپاڼي په نامه پېژندل سوېده چي په جاپان کي یې د بیان د آزادۍ او د ډیمو کراسۍ پلو نیولی دئ او زیاتره د یوې کیڼ اړخي ورځپاڼي په سترګه ورته کتل کیږي . دغه ورځپاڼه په تیرو لسیزو کي تل د شمالي کوریا په حکومتي چارو کي د کیم د کورنۍ صفتونه کړي او همدارنګه یې په چین کي د


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املایی و انشایی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.

فرهنگي انقلاب ملاتړ کاوه . آساهي شيمبون د آئوم شينريکيو د فرقې د حاميانو څخه هم دئ کومه چي څو کاله مخکي يې د توکيو په ميترو کي د سارين د ګاز د خپرولو فاجعه را مينځته کړېوه . داسي ويل کيږي چي دغي ورځپاڼي په سياسي او ټولنيزو چارو کي ستالينيستي ليد لوری نيولی دئ .

اوس په جاپان کي جمعاً ۱۲۱ ورځپاڼي چاپيږي چي ټوله د دې هيواد د ورځپاڼو د خپرونکو او مدېرانو د انجمن (NSK) کي غړيتوب لري . د جاپان خلک د ټولي نړی د خلکو په مقايسه د ورځپاڼو د لوستلو سره زيات شوق لري . په دې هيواد کي د ورځي څه کم ۷۵ ميليونه ورځپاڼي چاپيږي چي په ټوله نړۍ کي يې ساری نه ليدل کيږي . د ورځپاڼو ددغه تيراژ د خپرېدو لپاره د ورځي لس زره ټنه کاغذ مصرف کيږي .

ديوميوري شيمبون ورځپاڼي نه وروسته په جاپان کي، دآساهي شيمبون ورځپاڼه په دوهم مقام کي راځي چي څه کم ۱۲مليونه نسخي چاپوي او دريمه درجه يې بيا مايني جي شيمبون ده چي د چاپ شمېره يې و۴ميليونه نسخوته رسيږي.

دغه تيراژ چي کله په جهاني سويه د مشهوره ورځپاڼو سره څوک مقايسه کوي نو بيخي د امنا وړ ده . مثلاً په امريکا کي د يو ايس ټوډې ورځپاڼه ۲/۲ ميليونه، وال سټريټ ژورنال يو ميليون او اته لکه، نيويارک ټايمز يو ميليون نسخي او د انګليستان د ټايمز ورځپاڼه ۷۵۰ زره نسخي چاپوي.

که څه هم انټرنيټ او ډيجتالي رسنۍ څټک پر مختک کوي او د خبر او طلاعاتو عرصي يې ايثار کړي دي چي داپروسه پر مکتوبي او چاپي رسنيو ناوړه اثر ايښی دئ ، د زياتو خپرونو د تيراژ اندازه يې را ټيټه کړېده او يا د چاپ نه پاته شوي دي. مثلاً همدا نيژدې د امريکا مشهوره هفتګي مجله نيوز ويک تازه د پرله پسي ضرر په وجه و خرڅلاو ته مجبوره سوه . خو په جاپان کي عام خلک د ورځپاڼو د لوستلو دود لا دلاسه نه دئ ورکړی، د ورځپاڼو چلوونکي هم د تازه ميتودو نه کار اخلي چي خپل مخاطبان د ځانه سره وساتي. هغوی ته د ورځپاڼود تيراژ لوړتيا د زياتواعلاناتو درا جلبېدو اصلي عامل دئ چي د رسنيو خاوندانو ته زياتي ګټي راوړي .

د جاپان په سلو کي ۹۰ ورځپاڼي و خپلو ګډون کوونکو ته پر خپلي پتې لېږل کيږي چي دغه شمېره په جاپان کي د باسواده خلکو لوړ رقم ښيي . د جاپان په سلو کي ۹۹ خلک باسواده دي چي په سلو کي ۷۵ يې ورځپاڼه لولي . د آساهي شيمبون ورځپاڼه په جاپان کي د خپلو لوستونکو ته زيات اعتبار لري . دغه ورځپاڼه د کال ۲۰۰۱ راهيسي د انګليسي ژبې انټر نېشنل هرالډ ټريبون په مرسته چي د نيويارک ټايمز شرکت يوه برخه ده ، خپريږي .

هغه لوی شرکت چي د آساهي شيمبون ورځپاڼه خپروي،د جاپان د وتلو لويو شرکتو څخه دئ چي و بيلابيلو موسسو ته ګڼ شمېر نوري ورځپاڼي، کتابونه، مجلې هم خپروي . د اساهي ټيم د رسنيو په ټولو برخو يعني راډيو، ټلويزون او چاپ کي فعال حضور لري . د اساهي په نامه ټلويزوني شبکه او ځانګړې انټرنيټي فعاليت هم لري .

د آساهي شيمبون د ورځپاڼي نښان د لمر طلوع ده . ددې ورځپاڼي دوراني سرمايه يو اعشاريه ۶۵۰ ميليونه ډالره ده او کلني خرڅلاو يې ۴ ميلياړد او ۴۱۷ ميليونه ډالرو ته رسيږي .

د غه ورځپاڼه په داخل کي ۳۰۰ خپرندويه دفترونه لري چي مرکزونه يې په پنځو مهمو ښارو يعني ټوکيو، اوساکا، فوکويوکا، ناګويا او هوکايډو کي موقعيت لري، او په دېرشو بهرني هيوادو کي فعاليت کوي چي مرکزي اداري يې په لندن، د هالينډ په هيرلن، نيويارک، لاس انجلس، سنګاپور او هانګ کانګ کي واقع دي . د نړۍ کره او تازه خبرونه په ډيره چټکيا سره خپروي . دغه ورځپاڼه سهار او مازيګر په دوه نوبته خپريږي . څه کم درې زره خبريالان لري . د ورځي ۱۹۰۰ ټنه کاغذ يوازي ددې ورځپاڼي په خپرېدو مصرفيږي . د ورځپاڼي د توزيع د پاره ۳۴۰۰ يونټونه موجود دي چي د ۸۴ زره کسانو لخوا په خپلو لوستونکو باندي وېشل کيږي .

**په کال ۱۹۹۴ کي د فرانسي د لوموند ورځپاڼي د يوې احصايي په ترڅ کي ، د اساهي شيمبون ورځپاڼه د نړۍ د اتو مخکښه او لويو ورځپاڼو په کتار کي لمړۍ وګڼل . دغه ورځپاڼي په امريکه کي نيويارک ټايمز، په بريتانيا کي فاينشل ټايمز ، په روسيه کي ازويستيا(**Izvestia**)، په چين کي پيوپلز ډېلي (**People's Daily**) ، په مصر کي الاهرام، په کولمبيا کي ال ايسپک ټيټر(**El Espectator **)** او په هند کي، ټايمز آف انډيا، ورځپاڼي وې .

د آساهي شيمبون ورځپاڼه د قوي سياسي کدرونو په درلودلو سره ډېر شهرت او په خلکو او دولتي مقاماتوکي زيات نفوذ لري ، دغه ورځپاڼه چي د يوې مخکښې، آزاد خيالي او د يوه روښانه فکر ليد لوري په درلودلو سره پېژندل کيږي، کولای سي د خپل نفوذ په قوت سره د جاپان د صدر اعظم پر ټاکلو او يا ايسته کولو کي کارنده تأثير وکړي .


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

مأخذونه :

http://en.wikipedia.org/wiki/Asahi_Shimbun
http://www.asahi.com/english/


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de